مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۷/۱۲

# خوشی

خوشي د هلمند د خلکو دود دی. هلته چې ځوک کوژدن شي، نکاح هم تړي او بيا تر واده پورې د خسرګنۍ کره آزاد ورتلی شي او معمولاً د جمعې شپه د خسر په کور کې تېروي.

د ټولنيزو چارو پوهان وايي که ښځه او مېړه وار له مخې سره وپېژني، د يو بل په عادتونو خبر وي، يو له بل سره مينه ولري نو له واده وروسته به يې ژوند د نورو په نسبت بې جنجاله وي. په غربي هېوادونو کې بې له مينې واده خو هسې فضول کار ښکاري. په اسلام کې د قبلولو او منلو حق نجلۍ ته ورکړل شوی دی. ممکن ډېر ځوانان له يوې پېغلې سره د واده ارمان ولري، هر ځوک به مرکه ورلېږي خو دا د پېغلې حق دی چې ځوک قبلوي او ځوک نه قبلوي.

ځينې کسان چې په نژدې خپلوانو کې ودونه کوي، دغه چانس لري چې يو بل سره ښه وپېژني خو هغوی چې له پرديو سره دوستي کوي دغه امکانات نه لري. له ډېرو نژدې خپلوانو سره دوستي بيا دا تاوان لري چې په اولادونو کې يې د مورزادي تکليفونو چانس زيات وي. د زړه تکليفونه، شکره، فشار او ډېرې نورې ناروغۍ په هغو ماشومانو کې زيات ليدل کېږي چې ميندې پلرونه يې سره نژدې خپلوان وي.

په ښارونو کې کله کله د مينې په اساس ودونه هم کېږي، هلک او نجلۍ سره ميئان وي، سره غږېدلي ګرځېدلي وي او د يو بل په باب يو څه معلومات يې پيدا کړي وي خو دا چې په دوی باندې احساسات غالب وي نو ممکن د يو بل په پېژندلو کې پوره دقت ونه کړای شي.

تاسو به نا آشنا ځايونو ته تللي ياست. سړی چې اول سر کې نابلده ځای ته ورشي نو سربداله وي، يو ډول وېره او ناکراري يې په زړه کې پيدا شي. ناوې هم دغسې وي، يو عمر يې د پلار په کور تېر کړی وي خو يو دم د خسر کره ورشي. کور کوټې، کورنۍ او هر څه ورته نا آشنا وي. اکثرې پېغلې د واده تر شپې پورې خپل سړی هم نه وي ليدلی نو د دوی اروايي حالت به څنګه وي؟

په افغانستان کې خومره چې قومونه، ژبې او لهجې ډېرې دي، هماغومره دودونه رواجونه هم ګڼ دي. ممکن د يوې سيمې او يوه قوم رواجونه نورو ته عجيبه ښکاره شي. د هرات، فراه او هلمند د ځينو ولسواليو خلک دا رواج لري چې په کوژده کې نکاح وتړي، بيا د زوم پښې خلاصې وي، د خسر کره آزاد ورتلی شي. د فراه د انار درې خلک بيا له کوژده وروسته، په خپل کور کې زوم ته کوټه ورکوي. هغه هماغلته اوسېږي تر هغې پورې چې واده کوي او ښځه خپل کور ته بيايي. د هلمند په کجکي او موسی کلا کې بيا معمولاً زوم د جمعې شپه د خسر کور ته ورځي، دوی ورته خوشي وايي. په دغو خلکو کې له کوژدې تر واده پورې کال دوه کاله تېرېږي.

دا چې زموږ اکثره پېغلې او ځوانان د دې امکانات نه لري چې له واده مخکې يو بل وګوري او د يو بل خوی بوی وپېژني نو د هرات او هلمند د خلکو رواج سړي ته منطقي ښکاري. د دوی لومړی مخکې له هغې چې د مېړه کور ته لاړې شي، مېړه سره بار بار ګوري، خبرې ورسره کوي، په دې پوهېږي چې د مېړه څه خوښېږي او څه شی يې بد ايسېږي نو بيا چې واده شي او د هغه کره ورشي، ډېره نابلدې به نه کوي. له بلې خوا زوم چې د خسرګنۍ به کور کې زيات وخت تېروي د هغوی له حاله خبرېږي، خواږي ورسره پيدا کوي، ستونزې يې درک کوي او تر واده وروسته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ورسره ښه روابط پالي. ما يو کال د هلمند په کجکي کې تېر کړی، ما ته داسې ښکاره شوه چې هلته د زوم او خسر تر منځ دوستي د نورو سيمو په پرتله لا ټينګه وي. هلته اخښي ته ډېر درناوی کېږي او طبعاً د دوی د کورنيو تر منځ لانجې هم کمې وي.

ويل کېږي چې دودونه د ضرورت پر اساس رامنځته شوي او وروسته بيا په عادت بدل شوي دي. اوس چې اکثره کارونه د دود له مخې کوو، په دې پسې سر نه ګرځوو چې ولې يې کوو؟ موږ بايد خپل دودونه د ښه او بد په تله کې وتلو او اوسنيو اړتياو سره يې اعيار کړو. که په بل قوم يا بله سيمه کې ښه دود وينو بايد يې خپل کړو او که خپل رواج مو بيکاره دی بايد ختم يې کړو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ